RÉPUBLIQUE FRANÇAISE
*Liberté*
*Égalité*
*Fraternité*

Santé publique France

# کوروناویرس • د پوهیدو لپاره • 1

## کوروناویرس څه شی دی؟



کوروناویرس یو ویرس دی. هغه یوه نوي
ناروغۍ منځ ته راوړي چې د کوویډ – 19
په نوم یادیږي




دا ناروغي په ځانګړي ډول د دې نښو لامل
ګرځي : توخی ، تبه ، په تنفس کې ستونزې.



ډیری وختونه ، دا ناروغي جدي نده او یو
څوک په اسانۍ سره علاج کیدای شي.



مګر ځینې وختونه دا جدي کیدای شي.
په ځانګړي توګه د 70 څخه زیات عمر
او کمزورو خلکو لپاره چې دمخه بله
ناروغي ولري شدیده کیدای شي. د مثال
په توګه : د شکر ناروغي ، تنفسي ستونزې ،
د بختورکو ناروغي ، سرطان ، HIV آچ آی وي او داسې نور.



د کوویډ - 19 لپاره اوس مهال درملنه
یا واکسین شتون نلري.

Watizat, tous droits réservés

## دجمعې ورځې د اکتوبر له ۳۰ پیل تر اول د ډسمبر پورې قرنطین په ټوله فرانسه کې د اجرا وړ دی

## له کوره بهر تګ منع دی

### ځینې خاص تګ راتګ ته د لاندې دلایلو له امله اجازه شته:

• د قضايي او اداري ملاقاتونو او احضاريو لپاره د عامه خدمتونو په دفترونو کې ( پوست دفتر، پريفيکچر، اوفپرا ،محکمه (CNDA ). د قرنطين په موده کې دغه دفترونه خلاص دي.

• له کور څخه کارځای او یاهم ښوونځی او کار لپاره تګ راتګ.

• د لومړنیو توکو د اخیستلو لپاره.

• ډاکټر او دارو اخیستلو لپاره.

• د معلولو خلکو د لیدلو او مرستې لپاره.

• اړمنو کسانو سره د مرستې او د ماشومانو پاملرنې لپاره.

• د کور په چاپېريال کې د يو کيلومتر په فاصله په ورځ کې د یوساعت لپاره.

### د خاص تګ راتګ لپاره د سند درلودل جبري ده:

• دغه سند يوازې يوځل لپاره د اعتبار وړ دی
• باید هرځل بهر ته تګ لپاره نوی شي.
• د وتلو نیټه باید پکې ولیکل شي.

بهر ته د تګ سند له دغه ځایه لاسته راوړئ:
www.bit.ly/2IdHZ19

بهر ته د تګ سند، د کاري سفر او ښوونځي ته د تګ د ثبوت سند :
www.bit.ly/359U9B9

⚠ د پام وړ: د پوليسو کنټرول ډيريږي. که چيرې داسې يو سند و نه لرئ چې په فرانسه کې ستاسې د اوسیدو حق ثابت کړي نو ۱۳۵ يورو جريمې او د پوليسو د نیولو له خطر سره مخامخ کیږئ. په معمول ډول که چيرې تاسې د سړک پرغاړه ویده کیږئ او یاهم د غذا د ویش لپاره ځئ نو پولیس حق نه لري چې تاسې جريمه کړي.
د پوليسو د جريمې پر وړاندې د اعتراض لپاره، د دغه ايميل له لارې د ملاقات وخت واخلئ:
confinement@ouvaton.org

Watizat,

# هغه څه چې پولیس یې نه شي کولای:




## د لومړنیو اړتیاوو  لپاره بهر ته تګ:

**د خپلو لومړنیو اړتیاوو د اخیستلو لپاره له پولیس سره بحث وکړئ.**
> که چیرې ستاسې خریداري په هغو دوکانونو کې وي چې د خلاصید اجازه لري نو اصولا بحث ته اړتیا نه لرئ.

**د بیک تالاشي**
> ښایي چې پولیس له تاسې یوازې د بیک د خلاصولو غوښتنه وکړي.

**که چیرې د خریدارۍ لپاره مو له یو ساعت ډیره موده مو تیره کړې وي، له پولیس سره بحث وکړئ.**
> دغه موده یوازې د روزشي فعالیتونو، پیاده ګرځیدل او بهر ته د حیواناتو د بولو لپاره مهمه ده.

## د جریمې په حالت کې

**په ساحه کې د جریمې غوښتنه وکړئ.**
>جریمه مو تل د پوست له لارې استول کیږي.

د جریمې پر وړاندې د اعتراض لپاره د مرستې په موخه د دغه ایمیل له لارې د ملاقات وخت واخلئ : confinement@ouvaton.org

## د روغتیایي دلایلو له امله بهر ته تګ:

**له ډاکټر سره د ملاقات لپاره د دلیل غوښتنه**
> روغتیایي محرم معلومات مو حفظ ساتل کیږي.

Watizat, tous droits réservés